# د واکسين کولو وروسته پاملرنه: لويان

**زده کړئ چې په راتلونکو څو ورځو کې څه تمه وکړئ او د جانبي عوارضو وضعيت سره معامله څرنګې وکړئ.**

## د ځينو واکسينونو وروسته تاسو ممکن څه اړخيزې اغيزې ولرئ.



**د عضلاتو او ګډ درد**



**ستړيا او سر درد**



**تبه، توخی او لړزېدل**



**د ايم ايم آر MMR او ويروسيلا واکسينونوکولو څخه 1-2 اونۍ وروسته تبه، خارښ او نور اړخيزې اغيزې ممکن واقع شي.**



**التهاب، کانګې او اسهال**



**د انجيکشن په ځای کې درد، سوروالی او پړسوب**

کيدې شی د کورونا واکسين نه پس تر 7 ورځو پورې واقع شي.



**د COVID-19 واکسينونو وروسته: د بغل لاندې پړسيدلي لمف نوډونه هم کيدای شی**

## ډيری اړخيزې اغيزې معتدل وی او د 1-2 ورځو وروسته له منځه ځي

د معافيت ځانګړي اړخيزو اغيزو لپاره دلته وګورئ:

immunizebc.ca/adults/vaccines-recommended

د HealthLinkBC فايل ليدو لپاره د واکسين په نوم کليک وکړئ.

**راتلونکی مخونه د دې لپاره وګورئ:**

- د جانبي عوارضو لپاره احتياطي تدابير
- د درملو احتياط
- کله طبي مرسته ترلاسه کړئ

پدې ژبو کې شتون لري: 简体中文 (ساده چينايي)، 繁體中文 (دوديز چينايي)، فارسی، 한국어 (کورين)، ਪੰਜਾਬੀ (پنجابي) او نورې ژبې

## زه د ښه احساس کولو لپاره څه کولی شم؟



**د انجیکشن په ځائ کي د درد او پړسوب لپاره:**

- په هغه ځائ یو یخ، لوند ټوکر یا د یخ پیک ولګوئ.
- خپل لاس ته په ورځ کي څو ځله حرکت ورکوئ.
- د طبي پلورنځي نه یو عام د درد درمل واخلئ، لکه آئیبوپروفن (Advil®) یاایسیټامنوفین (ټائلینول).

---



**د تبې لپاره:**

- آرام وکړئ.
- ډیری مایعات وڅښئ.
- سپکي جامي واغوندئ.
- د تبې او د ناراحتۍ کمولو کي د مرستي لپاره د درد ضد درمل لکه آئیبوپروفن (Advil®) یاایسیټامنوفین ټائلینول واخلئ.

## د کاونټردرملو د خوندیتوب لارښووني

- په لیبل کي ټول لارښووني ولولئ او تعقیب کړئ. د وړاندیز شوي مقدار څخه ډیر مه اخلئ.
- که تاسو امیندواره یاست، نو ibuprofen (Advil®) مه اخلئ. پرځای یې ایسیتامینوفین (Tylenol®) وکاروئ.

## تاسی کله د طبي پاملرنې غوښتنه وکړئ

د واکسین کولو وروسته جدي اړخیزې اغیزې خورا لږې دي. مګر که کله وشي، نو دا مهمه ده چي سمدستي اقدام وکړي.

**که چیرې لاندیني نښې شتون ولري سمدستي طبي پاملرنه وغواړئ:**

- د شدید الرجیک عکس العمل نښې (د مثال په توګه، پوټکي، تنفسي ستونزه، د ژبې یا شونډو پړسوب). که دا د کلینیک څخه د وتلو وروسته پېښ شي، نو 911 یا خپل سیمه ایز بیړني لمبر ته زنګ ووهئ.
- که تاسو د کورونا واکسین اخیستی وي او د سینې درد، د ساه لنډی، یا د چټک زړه ضربان احساس، یا د زړه ټکان لري.
- نورې اندیښنې نښې او علائم.

**د واکسین کولو وروسته جدي او/یا غیر متوقع اړخیزې اغیزې خپل د معافیت چمتو کونکي/کلینیک یا روغتیا پاملرنې چمتو کونکي ته راپور کړئ.**



**د خپل معافیت ریکارډ دلته ومومئ: healthgateway.gov.bc.ca**